


# ټولپېژندلی او ټولمنلی شاعر، لیکوال او رسنوال ښاغلی لایق زاده لایق له خپل اندو ژوند سره

## مرکه وال : انجنیر عبدالقادر مسعود

شعر په کره کوټلي او آهنګینه ژبه کې د اندو واند (فکروخیال) یو ولولیزه (عاطفي) تړاو دی چي له زړه نه راپورته شي، او زړونو ته لار وکړي. په دې ډول تر هرڅه وړاندې باید د شعر ژبه خوږه، نره، او کره کوټلې، زړه راکښونکې، وییونه (کلمې) یې تازه او ښکلي وي. ټولنیز واقعیتونه او دټولنیز بیلابیل اړخونه باید په هنري او ادبي ژبه، او شاعرانه تخیل په ډېره لوړه کچه انځور شي. همداسې د شعر نورې ادبي او هنري ښیګڼې پکې نغښتې وي چې دهر لوستونکي او د ادب د مینه والو له خوب و خورمنځ (ذوق او طبیعت) سره برابر اوسي او لوستونکي یې تر پایه ولولي.

دا ځل زه تاسې درنو مینه والو ته د پښتو ادب و فرهنګ یو بل وتلي او نومیالي استازی، شاعر، کیسه لیکونکي، ډرامه لیکونکي، څېړونکي، سیاستوال، ټولنوال، او رسنوال (ژورنالیست) ښاغلی لایق زاده لایق چي  په لره پښتونخوا کې یې دپښتو ادب او دشعر او شاعرۍ ډیوې بلې ساتلې دي. د یوې خونډورې او په زړه پورې مرکې له لارې  له خپلو هستونو او کارونو سره در پېژنم او تر هر څه له مخه یې دا لاندې لنډ ژوند لیک درسره شریکوو:

ښاغلی لایق زاده لایق د خدای ښنلي لعل جان پاچا زوی او د خدای ښنلي حاجي کاکا لمسی پر(۱۹۵۹)زیږدیز کال د جنورې د میاشتې پر پنځلسمه د پښتونخوا د (سوات) په ښکلې، غوړیدلې او ښیرازه سیمه، د(مدین) کلي په یوه درنه او دینپاله کورنۍ کې زیږیدلی دی. خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په خپل کلي او سیمه کې سر ته رسولي دي. په لوړو زده کړو کې  یې پر سیاسي علومو سر بیره په  اردو او پښتو ادب

کې د ماسترۍ تر کچې  ډیپلومونه(بریلیکونه) تر لاسه کړي دي. لایق زاده صاحب د خپلو زده کړو پر مهال د پښتو ادب په برخه کې د یو ښه او تکړه ادیب په توګه د خلکو تر منځ پوره پېژندل شوی وو. هغه مینه چې ده، له خپلې ژبې او ولس سره لرله، او تل به یې دخپل ولس د آزادۍ ، سوکالۍ، یوالي او پیوستون سوچونو په زړه او  ذهن کې غزوني کولې، دې ته وهڅیده چې د (ستودنس فیدریشن ګوند) بنسټ کیږدي او د خپل کلي د ځوانانو د ذهنونو په راویښولو کې یې کارنده ونډه ترسره کړي.  او په لړ کې یې هلته د ځوانانو یوه ټولنه هم جوړه کړه.

لایق زاده صاحب پر (۱۹۸۳ز) کال  د پاکستان په رادیو کې د پرودیوسر په توګه خپله دنده پیل کړه، د پښتو ډرامې، موسیقي او روانو چارو په خپرونو کې یې کارنده ونډه واخیسته. لایق زاده صاحب د شاعرۍ تر څنګ  د رادیو او تلویزون لپاره ګڼ شمیر ډرامې هم لیکلي دي. د پښتو له درانه مشر افضل خان لالا سره د وزارت پرمهال لایق زاده صاحب  د سکرتر په توګه دنده لرله. پر لره او بره پښتونخوا سربیره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پښتانه د ده د ادبي هلوځلو درناوی کوي. نن سبا دی د پېښور راډیو د مشر په توګه دنده لري. خپلو پرګنو ته د ښاغلي لایق زاده صاحب د لا ډیرو هلوځلو او هاندو هڅو په تمه یوو.

د شعر پوهانو په اند، موسیقي ناوې ده او شعریې ګاڼه. لایق زاده صاحب د پښتوموسیقي دفن اوهنر دپراختیا او پرمختیا په برخه کې د پام وړ خدمتونه تر سره کړې دي. ده دګڼو پښتو نامتو سندرغاړو، کمپوزرانو او موسیقي جوړوونکواستادانوپه پیژندګلوۍ او لاربښوونه، روزنه او پالنه کې اغیزمن رول لوبولې دی. د ده شعرونه دپښتونخوا د نامتو سندرغاړو او هنرمندانو له خوا په رادیواو تلویزون، فلمونو، حجرو، دیرو او نورو بنډارونو کې په خپلو اغیزناکو او خوږوآوازونواو په ډیر ښکلي کمپوزونو د ساز په څپو کې خپلو مینه والو ته وړاندې کړې دي.

لایق زاده صاحب پرخپلوادبي آثارو، د پښتوادب لمن زرغونه او پتمنه ساتلې ده، ده دادب په بیلابیلو برخو کې (۲۲) ارزښتناک او ګټورکتابونه کښلي دي، او دیو شمیرپوهانو، شاعرانو او ادیبانو پر کتابونوسریزې او له (۳۷۰) زیاتې رادیویي ډرامې هم لیکلي دي.

د پښتو ادب، ټولپیژندلي او نومیالي شاعراو سیاستوال اروابناد اجمل خټک په خپله یوه لیکنه کې د لایق زاداه صاحب د یو اثر په اړه، چې (ماته آئینه) نومیږي داسې لیکلي دي:

((ماته آئینه: د ښاغلي لایق زاده لایق د داسې افسانو مجموعه ده ـ چې خپل انفرادي رنګ لري ـ ما په وړمبې ځل په دیر کښې د اباسین شعري مجموعې(الوت) د مخکتنې په موقع د لایق زاده لایق افسانوي لیکنه اوریدلې وه ـ زه د هغه علامتي (ښاپیرۍ) د ځان سره

ډېر لږ بوتلی ووم ـ غالبا دومره لږ چې پخپله لیکوال ته به هم د دغه حدونو احساس نه وو. هم دغه وجه ده چې زما په ذهن کښې اوس هم د هاغه ښاپیرۍ عکسونه چورلي.
لایق زاده لایق چې پښتو افسانې ته کوم نوی رنګ ورکړی دی ـ نو د هغې نه دا بریښي چې په پښتنو یو نوئی دور را روان دی. د وینو په دې ډنډوکې کښې یو نوی ګل ټوکېږي چې هغه د لایق زاده لایق ادبیات د هغه شاعري د هغه افساني او ورسره هاغه قامي خدمت دی چې هغه ئې د راډیو د لارې کوي. لایق زاده لایق چې د پخوانو سندرغاړو د آوازونو کومه خزانه راغونډه کړې ده ـ د هغې هډو بل مثال نشي کیدی. زه چې کله کله دغه آوازونه اورم نو د لایق زاده لایق د ادبي او کلتوري خدمت اعتراف کوم.زه ورته په دغه افسانوي مجموعه (ماته آئینه) مبارکي وایم ځکه چې دا یو نوی او منفرد انداز دی او د دې تر ځنګه ورته.... او بلا نور بریالیتوبونه غواړم. ))

لایق زاده صاحب هغه خواخوږی، منلی او وتلی لیکوال او شاعر دی، چې د ده په شعرونو کې د دې او هغې دنیا د نیکمرغیولارې چارې، سپیڅلي قامي او انساني مینه، سوزاو درد او پښتني احساس له ورایه ښکاري. ده په خپلوشعرونو کې دخلکو او هیواد سره مینه، پښتو او پښتنولي، سوله او سوکالی، آزادي او دموکراسي، ملي یووالي او پیوستون، بزم او رزم، سپیڅلي کلیوالي چاپېریال، کلیوالي ورورولي اوصمیمیت، ښکلا، مینه، درندانو او مستانوسوزاو ګداز، د ښاپیریو حسن او جمال او د طبیعت ښکلي او زړه وړونکې منظرې په خوږوالفاظو، شاعرانه او هنري ژبه انځور کړي دي. د ده په شعري ټولګو کې داسې ادبي او هنري بېلګې شته دي چې نوښت او خوږوالي یې له ورایه ښکاري. د ده له شعري ټولګو څخه مو څو بېلګې غوره کړې دي چې ستاسو پام ورته را اړوم:

د خپل ذات په آئینه کښې واړه ښکاري

که مکان که لامکان دی که کعبه ده

چې د ژوند په هره ساه کښې ساه پیدا کړي

نور څه نه دي د اخلاص یوه سجده ده

(۱) :

هر یو راز به د ژوندون درته ښکاره شي

که یو ځلې د (خپل ذات) په راز خبر شي

د عظمت فلسفه دومره ګرانه نه ده

ځان کړه خاورې نو پخپله به (ګوهر) شې

(۲) :

په هر قدم زه وسعتونه دعرفان لټووم

هر تصور کې تصویرونه د جانان لټوم

ما د (بابا عبدالرحمان) نه قناعت زده کړی

ما د(خوشال بابا) د فکر نه غیرت زده کړی

ما د(حمید بابا) د خیال نه نزاکت زده کړی

د(علي خان) نه مې اظهار د محبت زده کړی

زه په مکان کې فلسفې د لامکان لټوم

هر تصور کې تصویرونه د جانان لټوم

....

(۳) :

خیر که زه خفه یم خو یاران دې خفه نشي

خدایه دا مې سوال دی یو انسان دې خفه نشي

نشته پروا نشته که په اور مې سوزوي مینه

تو له تو له شېه مې بې اختیاره زوروي مینه

ما لکه ماشوم په چغوچغو ژړوي مینه

لا دې نور رسوا شم خو جانان دې خفه نشي

خدایه دا مې سوال دی یو انسان دې خفه نشي

....

(۴) :

عاجزی او خاکساری په هره ساه کښې

سړيتوب آهم معراج د شرافت دی

نور کارونه د دنیا واړه عبث دی

غوره کار تر همه واړو (محبت) دی

(۵) :

په يو کور کې اوسيږو خو ديو بل نه پردي يو

مونږ څومره ليوني يو

لوبيږو د بل لاس کې د اغيارو ګوډاګي يو

مونږ څومره ليوني يو

بې سوچه بې دليله

يو بل په کاڼو ولو

د نورو په يارې کي

مونږ خپل په کاڼو ولو

په دام د نفرتونو کې پاخه پاخه بندي يو

مونږ څومره ليوني يو

....

(۶) :

دغه (خيبر) دی دا دره د ننګيالو خاوره ده

دا د خود سره سرباز انو توریالو خاوره ده

په دغه کاڼو کې زمونږه د غيرت نښې دي

قدم قدم د لوړ همت او شجاعت نښې دي

دا د (ميرويس) د(احمدشاه) د ميړنيو خاوره ده

دا د سره سرباز انو توریالو خاوره ده

....

(۷) :

څوک به (کابل) او (پیښور) يادوي

څوک به ښايست د (اشنغر) يادوي

د چا (خيبر) د چا (تيراه) خوښه ده

زما دا ټوله (پښتونخوا) خوښه ده

دغه ساده باده سپيڅلي کلي

دا د وختونو نازولي کلي

د تصور نه بلا ښکلي کلي

دلته مې لور په لور خندا خوښه ده

زما دا ټوله (پښتونخوا) خوښه ده

....

(۸) :

د حسن تصور به ستا د مخ په ننداره کړم

د ميني هر احساس به ستا له سترګو صدقه کړم

رنګونه به راټول کړم    د ژوند د پسرلو نه

ګلونه به را ټول کړم    د فکر د ورشو نه

خوبونه به راټول کړم    د سترګو د ليمونه

دردونه به راټول کړم    د زړه د زلزلو نه

دا هر څه به جانانه ستا ځوانی ته غرغره کړم

د ميني هر احساس به ستا له سترګو صدقه کړم

....

:(٩)

تصویرونه جوړومه، تصویرونه ورانومه

لړ مې پوهه کړه جانانه، تا به څنګه هیرومه؟

کله اوخاندم سپوږمۍ ته، کله ستورو ته ګیلې کړم

کله ځان سره ګونیږم، کله سر وهم بنیرې کړم

تیر وختونه یادوومه، رنې اوښکې تویومه

لړ مې پوهه کړه جانانه، تا به څنګه هیرومه؟

مازیګر چې د نمر سترګه، ځي له غرونو پناه کیږي

تنهایي مې د زړګي نه، د لمبو شان چاپیریږي

هر خوا سترګې ګرځوومه، ستا خاپونه لټومه

لړ مې پوهه کړه جانانه، تا به څنګه هیرومه؟

:(١٠)

اوویه وحشته ازل چرته دی

ګرانه زندګي شوه اجل چرته دی

لاره د ژوندون نوره ازغنه ده

وایه لیونتوبه منزل چرته دی

کله! ښکلي ډیر دي ما لیدلي دي

ستا د ښایسته سترګو بدل چرته دی

....

:(١١)

چې کوم خوا ګورمه تصویر مې د جانان ښکاري

ماته د ژوند په ښایستونو کښې خپل ځان ښکاري

ستا په رخسار چې د حیا رنګونه لوبې کوي

په هره ساه مې د وفا رنګونه لوبې کوي

بدل بدل راته نازونه د ارمان ښکاري

ماته د ژوند په ښایستونو کې خپل ځان ښکاري

....

(۱۲) :

ما په اوربل کې قطار کړي دي ګلونه

لالیه بیا دیدن ته راشه

د بنګړو ډک مې دي راوړي مړوندونه

لالیه بیا دیدن ته راشه

ستا د راتلو په انتظار کې

بدن مې سوځي په انګار کې

په غونډه زنه مې وهلي شنه خالونه

لالیه بیا دیدن ته راشه

یم وارخطا زړه مې درزیږي

تا رانه غواړي نه صبریږي

راشه چې ختم شي مې واړه ګمانونه

لالیه بیا دیدن ته راشه

....

(۱۳) :

په سلګو مو شپه سبا کړه

تا ښېرې کړې ما دعا کړه

نور څه نه غواړم خاونده !

زما مینه ماله راکړه

ځکه پټه پاتې نشوه

لیونتوب مینه رسوا کړه

چې یارانو کړم یوازې

خپله لاره مې جدا کړه

....

(۱۴) :

چې مې سینه کې زړګی، کله دردونه کوي

ستا جدائي زما نه، ډیر تپوسونه کوي

زه دې تصویرسره خبرې په بیا بیا کومه

ځان ته بنېرې کومه، تاته دعا کومه

ستا په خاپونو پسې، په ګودرونو ګرځم

هر یو محفل ته ځمه، په زیارتونو ګرځمه

د ارمانونو په هر ځلي واویلا کوومه

ځان ته بنېرې کومه، تا ته دعا کومه

....

(۱۵) :

چرته زه درته یادېږمه او که نه

په زړګي دې را وروېږمه او که نه

د هجران په ناقراره توره شپه کې

درته سیوری کیږمه او که نه

دا یوه خبره سمه راته وکړه

خپل لایق درته ښکارېږمه او که نه

(۱۶) :

کړه له خیاله ګرځې د مستۍ نه دې قربان شم

زړګی ئې رانه یوړو د ځوانۍ نه دې قربان شم

په غټوغټو سترګو کې د مینې جهانونه

په سپین ګلابي مخ د منګرو زلفو تالونه

خبرې په خوند خوند لکه وربړي چې ګلونه

ناداني د ناداني زندګۍ نه دې قربان شم

زړګی ئې رانه یوړو له ځوانۍ نه دې قربان شم

....

لایق زاده صاحب یو مهربان، با احساسه، مینه ناک، زړه سواند، اود سپیڅلو اخلاقو څښتن دی. دی د علم، پوهې او ادب سره ځانګړې مینه لري، او په دې لاره کې یې د ستاینې وړ او ګټور آثار خپلو مینه والو وړاندې کړي دي.

د لایق زاده صاحب د پوره پیژندګلوي په اړه ما له ده سره یوه مرکه نیولې ده، چې ستاسو دادب او شعرمینه والو پام ورته را اړووم:

لایق زاده صاحب سلام، زما نیکې هیلې او پیرزوینې ومنئ، اجازه راکړئ، چې خپلې پوښتنې پیل کړم :

پوښتنه:

ستاسي شوق او مینه له ادبي ځیلونو (ژانرونو) سره او په ځانګړې توګه له شعروشاعرۍ سره څنګه پیدا شوه ، کومو لاملونو(فاکتورونو) او چا دې ته وهڅولئ ، چې د شاعرۍ او لیکوالۍ ډګر ته مو مخه کړه؟ لمړی شعر مو ، چې ولیکو کوم شعر وو ؟

ځواب:

زه فکر کوم چې په فطري توګه هر انسان شاعر دی ، ځکه چې د دوی احساسات او جذبات یو رنګ دي ، توپیر تش همدومره دی چې کوم خلک خپلې دغه جذبې د لفظونو په چوکاټ کې ځای کوي نو وختونه یې د لیکوال یا شاعر په حیث پیژني.

ما د سوات په ښکلاګانو کې سترګې غړولې دي ، زمونږ کلی مدین د غرونو په لمن کې پروت دی ، دا جوته ده چې کله یو حساس ذهن د فطرت په ښکلاګانو او ښایستونو کې وده کوي نو ارو مرو به شعر ویلو ته راپاریږي ، دا د (۱۹۷۱) زیږدیزکال پېښه ده چې ما په وړومبي ځل د خپلو هاغو کونترو(کوترو) په نوم یو نظم ولیکه، چې ما په ډیره مینه ساتلې وې ، دغه مهال زه ایله دولس کلن وم ، د دې نه څلور کاله وروسته کله چې ما د خپل کلي په ښوونځي(سکول) کې څو نظمونه ولیکل نو زما استاذانو ماله ډیر ډاډ راکړو.

خو کله چې د پوهنځي (کالج)په ورځو شپو کې ما په (ایلم) رساله کې د وړو کیسو او شعرونو لیکلو هڅه وکړه نو نا قراري مې لا سیوا (زیاته) شوه ، لدې نه وړاندې پر (۱۹۷۵) زیږدیزکال کې زما وړومبي کتاب د محنت میوه(د ماشومانو د پاره) ، چاپ شوی وه ، خو زه باید دا خبره سپینه کړم چې د پښتو د غزل د تکړه شاعر خدای بخښلي ساحر افریدي کتاب (پانزیب) لوستلو او بیا د پښتو د غزل له بابا سره لیدو او د هغوی ډاډ زه نورو لیکلو ته راوپارولم ، د بابا حمزه شینواري غزلې به ما له راډیو نه اوریدې ، خو د هغوی د روحانیت نه هغه وخت مستفید شوم چې مې ورسره لیده کاته وشول ، زه د روحانیت په سپیڅلیو جذبو باور لرم ، ځکه نو د بابا د روحانیت په اساس د ژوند د رموزو سره اشنا شوم.

په ړومبیو ورځو کې زما یو غزل ډیر وستایل شو چې یو بیت یې دا دی.

امیدونه مې کتلي ستا د غټو سترګو مینځ کښې

مینه ستا زما هر څه وی نه خوړل وی نه مې ښبنل وی

پوښتنه:

یو شمیر لیکوال وایي: په شاعرۍ کې تر ټولو لویه سرچینه مینه ده که دا سرچینه نه وي نو د شاعرۍ ډیره مهمه برخه له منځه ځي.

غني خان صاحب وایي:

ستوري ته اسمان کې یوه ورځ ووې هلال

خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال

زه به په خندا ورکړم دا خپل ښايست د کمال

ما له که يو ځاځکي مينه راکړې څوک په سوال

مينه حقيقت حسن سايه د حقيقت ده

حسن له زوال شته مينه نه لري زوال

او همداسې استاد ګل پا چا الفت صاحب وايي:

مينه ګلزار ته بلبلان راولي

بلو ډيوو ته پتنګان راولي

شاه د ګدا زړه ته نژدې کاندي

د خوار جونګړې ته سلطان راولي

مهرباني وکړئ په دې اړه خپل نظر راسره شريک کړئ؟

ځواب:

هو زه هم د ليکوالو او شاعرانو د دغه فکر سره همغږی يم. دا په دې توګه چې زما په خيال ټول انساني ژوند د مينې له يوې نکتې نه چاپيره چورلي ، او که د ژوند نه د مينې احساس ليرې شي نو ژوند به ژوند پاتې نه شي ، د رشتو تقدس به له مينځه لاړ شي ، د جذبو صداقت به صداقت پاتې نه شي د فطرت د نزاکتونو احساس به ختم شي ، شاعري د دې هر څه غوښتنه کوي.

شاعر که يو خوا د ژوند د رنګونو ترجماني کوي نو بل خوا په دغه رنګونو کې د ځان لټون کوي ، او چې څومره د دغې لټون احساس راپاريږي ، ارو مرو د شعر رنګينې زياتيږي.

پوښتنه:

ستاسې په آند شعر ته کوم تعريف تاکلای شو ، او يو شاعر په شعر کې کومو بنسټيزو ټيکو او معيارونو ته بايد پاملرنه وکړي؟

ځواب:

د شعر د تعريف په اړه د هر چا خپل خپل نظر دی خو څه دا خيال لرم چې د دې تعلق د الهام سره دی ، ځکه چې دا کوم فن نه دی چې څوک يې د چا نه زده کړه وکړي.

شاعري كه الهامي كيفيت نه وى

د دنيا خلق به واړه شاعران وه

زما په نظر چې څومره په يو شعر کې  الهامي اثر زيات وي ، هغومره ښه شعر ګڼلې کيږي، د دې تر څنګه چې کوم خلک له اړتيا سره سم کليوالي شاعري کوي هغې ته بايد د قافيه سازۍ پيشه وويل شي ، لکه چې په مختلفو وختونو کې خانانو نوابانو او ان تر بادشاهانو د خپل تعريف او ستاينې لپاره درباري شاعران ساتلي دي ، چا چې د خپلو بادارانو په تړاو لويې لويې قصيدې ليکلي دي.

ښه شعر زما تر نظره هاغه دى چې د خپلو لوستونکو او د خپلو اوريدونکو د زړونو تارونه داسې په رپا راولي لکه چې دا هم د هغوى د زړونو اواز دى ، د دې تر څنګه  نن سبا په شعر کې  پيغام ډير ضروري دى، سره له دې چې نني پوهان الهام ته د شعر فن وايي خو زه خيال لرم چې د اشارو ، کنايو ، استعارو او الهام په اړه زمونږ کلاسيکو شاعرانود پښتو ادب څولۍ ډکه کړې ده ، او د خپل وخت اکربکر(روزمرې) خيال يې په کې ساتل دى.

د دې هر څه سره په شعر کې معنويت او مقصديت هم ضروري دى ځکه چې بې مقصده او د ژوند د ترجماني ليرې شعرونه ژوندي نه پاتې کيږي ، د رحمن بابا د شعرونو مثالونه په هر محفل کې ځکه ورکولې شي چې په هغې کې د مقصديت سره سره رواني او سادګي هم ده ، کوم چې په ښه شعرونو کې وي ، رحمن بابا هم د خپل دغه انداز په اساس  داسې ويلي دي :

په غزل کې خو دوه شعره انتخاب وي

د رحمن غزل دى واړه انتخاب

نو بايد په مختصرو ټکو کې به ووايم چې د ښه شعر لپاره د ننګ، ابلاغ ، معنويت ، مقصديت ، رواني ، سادګي ، بې ساختګي او ژوند ته نژدې والې ډير ضروري دى.

پوښتنه:

يو شمير ليکوال په دې عقيده دي ، چې شعر الهام دى خو يو شمير نور وايي ، چې شعر ليکل ، رياضت او انساني تجربه ده . تاسې يکې څه وواياست، مهرباني وکړئ په دې اړه خپل نظر راسره شريک کړئ؟

ځواب:

لکه چې مې وويل شعر د الهام سره کلک تړون لري ځکه خو دغزل بابا حمزه شينواري د خپل شعر په اړه څه ښه ويلي دي.

چې خپل غزل د چانه واورم حمزه

وايم چې چا هسې وينا کړې ده

يا د خدای بخښلي ايوب صابر دا شعر:

چې له زړه نه ويني اوڅڅوم بيت شي

زماني زما نقصان ته خو خيال اوکه

ترڅايه پورې چې د رياضت د مفکورې تعلق دی نو هغې ته "اوردي" شاعري وايي ، د "امد" او "اورد" تر منځ ډېر باريک تعلق دی ، خو زه د ښه شعر په لړ کې د "اورد" قايل نه يم ، داسې شعرونه په زور ليکل کيږي ، او عموماً هاغه خلک يې ليکي کوم چې عمومي علميت او پوهه لري، او د دغه اوردي شاعرئ په چوکاټ کې به خپلولوستونکو او اوريدونکو ته د خپل علميت او پوهې ښکارونه کوي ، د دې په مقابله کې د ډېرو بې سواده خلکو امدي شاعري دومره ژوره ده چې د اوردي مکتب شاعران يې تصور هم نه شي کولې ، په نن مهال کې ډېر داسې شاعران شته چې د هغوی شاعري د قافيې طابع وي د تخيل نه.

پوښتنه:

ستاسې په آند د ادبي سبک او مکتب تعريف څه دی ، او يو ادبي سبک او مکتب څنګه منځ ته راځي او څنګه له منځه ځي؟ او دا راته ووياست تاسې په شعر ويلو کې له کوم ادبي سبک او مکتب نه پيروي کوئ؟

ځواب:

ادبي مکتب يا ادبي سبک چې په انګليسي کې ورته "سکول اف تاټ" وايي د يوې خصوصي لارې يو مخصوص فکر نمايندګي کوي ، لکه د مثال په توګه د رحمن بابا شاعري چې په مجموعي توګه د تصوف د مکتب نمايندګي کوي ، يا بيا که مونږ لږ شاته لاړ شو نو د ليکلي ادب ابتداء چې د کومو دوو نومونو نه کيږي هغه بايزيد انصاري او اخوند درويزه دي ، دواړه د خپل خپل مکتب خاوندان دي ، که هر څو ځنې خلک بايزيد انصاري د قام پرست سوچ باني ګڼي خو دا سوچ او دا فکر بيخي غلط دی ځکه چې هغه په مکمله توګه د وجوديت د مکتب يا فلسفي پيرو وو، په پښتو ژبه يې د ځينې تورو لکه ړ ، ډ ، څ او نورو احسان دی خو دا تورې هغه د پښتو په غرض نه د وجوديت د

خېروني (خوروني) لپاره استعمال کړي دي ، د هغوی په "خير البيان" کې چيرته هم د پښتونوالي ذکر نشته ، په مقابله کې يې اخون درويزه ننګرهاري چې خپل نوم يې عبد الرشيد دی ، د شهوديت پر چار کړی دی او د زيات اهميت وړ خبره دا ده چې د پښتنو د خاورې د پاره د پښتونخوا توری د احمد شاه بابا نه ډير وړاندې اخوند درويزه په خپل کتاب مخزن اسلام کې استعمال کړی دی، داسې مکتبونه داسې سبکونه هله له منځه لاړ شي چې کله هغه فکر د خپل وخت سره سرته ورسي، کومې نتيجې راوړي يا بيا يې ضرورت پاتې نه شي ، زه په خپله شاعرئ کې د شهوديت او وجوديت دواړو قايل يم ، او د حمزه بابا پر لويه او پراخه مفکوره عقيده لرم ، چې ورکې د تصوف ، ننګ ، غيرت او پښتو روحانيت هر څه شته ، او دا فکر کوم چې ځومره نن پښتنو شاعرانو ته د پښتو د خبرې کولو اړتيا ده، د سپينې خبرې کولو اړتيا ده، وړاندې کله هم نه وو.

پوښتنه:

په پښتو ادب کې پښتو ژبه د شعر او شاعرئ ژبه ده ، او په دې لاره کې شاعران لکه د آسمان د ستورو په شان ډير زيات ځليدلي او غوړيدلي دي . ستاسې پرآند د دې دليل څه کيدای شي؟

ځواب:

د شعر ليکلو تړاو (تعلق) د چاپيريال (چاپيرچل)، حالاتو او د وختونو له پيښو سره دی ، په پښتنه سيمه کې له بده مرغه د ازله رايسې دومره محرومې پاتې شوي دي چې شمير يې ګران دی ، که لره خوا ده او که بره خوا دواړه هميشه د استعماري قوتونو له لاسه زورول شوې دي ، د دې تر څنګه پښتنو مشرانو اکثر د خپل غرض او خپل مقصد تر حده مشري کړې ده ، پښتانه دا هر څه ويني ګوري او جوته ده چې ورته د محرومئ احساس کيږي نو د زړه دردونو د ټکور لپاره د شعر لاره خپله وي ، زه فکر کوم چې په پښتنو کې د شاعرانو د دومره زياتې شميرې اصلي دليل هم دغه ظلم  اوجبر دی چې په ولس يې خپل رهبران هم کوي او نور قوتونه هم.

حضرت باچا خان څه ښه ويلي دي چې پښتون هر څه ته تينګ دی خو پيسې ته د تينګې نه دی ، لکه د پرون په شان نن او سبا  به هم زمونږ د سرونو سوداګانې کيږي ، مونږ به هم په خپل لاس وژل کيږو په مونږ به هم داسې تورونه لګي.

د قامي اړخ تر څنګ زمونږ په کولتور کې د مينې تصور  هم ډير سپيڅلی (مقدس) دی ، زمونږ مينې بربنډې نه دي ، زمونږ مينې سرتورې ندي ، او دغه د کلتور زنځيرونه دي چې ورکې حيا او ښايستونه پټ دي ، حساس ذهنونه په داسې حال کې د شعر په ژبه د خپلو زړونو لفظونه لټوي ، دغه دوه لوی علتونه زمونږ د شاعرئ محورونه دي.

پوښتنه:

نوی ، ازاد شعر او سپین شعر له کلاسیک شعر سره څه توپیر لري ؟ یو شمیر شاعران په دې عقیده دي ، چې سپین یا ازاد شعر په پښتو ادب کې له ډیر پخوا څخه موجود ؤ . تاسې په دې اړه څه نظر لرئ ، او دا راته وویاست ، چې د ازاد یا سپین شعر مفکوره د چا له خوا چیرته او څرنګه را پیدا شوه؟

ځواب:

د ازاد او کلاسیک شعر تر مینځه روښانه توپیر دا دی چې ازاد شعر د قافیې له قیده ازاد وي ، یو مضمون ولري ، پر مقابل کې یې کلاسیک شعر یا پابند غزل خپلې قافیې لري ، د غزل په هر شعر کې بیل بیل مضمون ځایولای شي ، البته په کلاسیک نظمونو لکه چاربیته ، بدله یا نورو کښې لکه د سپین شعر "وحدت مضمون" موجود وي. تر کومه حده چې د ازاد شعر د قدامت تعلق دی نو زه په دې عقیده یم چې دا شعر په پښتو کې د نامعلوم تاریخ رایسې وجود لري ، زمونږ کلي والي او صوتي لوبې د سپین شعر روښانه مثالونه دي کوم چې د یو نسل نه بل نسل ته لاشعوري ډول لیږدول کیږي ، تر کومه چې پښتو ژبې ته د دې شعر د راتګ تعلق دی نو دا د انګلیسي ادب نه راغلی دی، او مونږ چې کله دانګلیسي شاعرانو شعرونه لولو نو (هنري)، سلګونه کاله پخوا هم دغه سپین یا (Blank Verse)

لیکلې دی. او همداسې ویلیم بلیک ، شکسپیر ، رابرټ فراسټ ، او نورو

ډیرو.

پوښتنه:

زمونږ یو شمیر لیکوال په دې عقیده دي ، چې د شعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي . تاسې په دې اړه څه نظر لرئ او ستاسې پر آند د خلکو په راوپښنولو او د ملي احساساتو په راپارولو کې شعر زیات اغیز لري او که نثر ؟ ایا تاسې هم نثرونه لیکلي دي او که نه ؟

ځواب:

دغه عقیده زه هم لرم ځکه چې زمونږ د نثر لیکونکو شمیره ډیره کمه ده او بیا د ناول لیکونکي خو د ګوتې په شمار دي ، تر کومه حده پورې چې د یو قام د راوپښنولو تعلق دی نو په دې اړه شعر د نثر نه ډیر زیات زورور دی ، که د تاریخ پاڼې ولوستل شي نو د ملي احساساتو په راپارولو کې شاعرانو ډیر بنیادي کردار اداء کړی دی ، دا ځکه چې

شعر په ترنم او د موسيقۍ د اهنګونو سره ويل کيږي کوم چې په ذهن او زړه ډير زيات اثر کوي ، په دې لنډو وختونو کې د استاد ملنګ جان او استاد رحمت شاه سايل شعرونه د دې ښکاره مثالونه دي ، زه د شعر تر څنګ نثر هم ليکم چې ورکې زما افسانې ، په مختلفو موضوعاتو مضمونونه او په بيلا بيلو ورځپانو او مجلو کې کالمونه شامل دي.

پوښتنه:

ستاسي له اثارو نه څرګنديږي چې تاسي له ادبي هستونو سره ډيره مينه لرئ. ايا تاسي بهرني آثار او په ځانګړې توګه د بهرنيو شاعرانو شعرونه مو لوستلي دي که نه ؟ که مو لوستلي دي ، نو پر تاسي يې څه اغيز ښندلی دی؟

ځواب:

يقيناً چې زه شعر ليکم نو په زړه کې د هر شاعر د فکر ، د هغه د سوچ مکمل احترام لرم ، نثري کتابونه لولم او په خارجي ليکوالو کې هاغه انګليسي شاعران په مينه لولم چې هغه د فطرت ښايستونوته لفظونه ورکوي لکه شيلي ، ويليم ، ورلډزورت ، ويلم بليک او ځيني نور ، د انګليسي شاعرانو سره سره زه د خپلي ژبې هاغه شاعران هم لولم چې په نورو هيوادونو کې ژوند کوي ، دا هر څۀ زما په فکر ډير ژور اثر کوي ځکه چې هر فن لپاره چې څوک هم تخليق کوي شاته يې يو درد ، يوه څړيکه موجوده وي کومه چې نيغ په نيغه زما ذهن او زما زړه ته رارسي.

پوښتنه:

استاد ګل پا چا الفت صاحب وايي:

په هر ځای کې په هر چا کې چې ښکلا وي

د يورپ ، د افريقې که د اسيا وي

د نظر خاوند په مينه ورته ګوري

مسلمان وي او که ګبر او ترسا وي

..........

او يا وايي:

ښکلی توب دی چې هر چا زړه پرې بايللې

چا په يو شان چا په بل شان دی ليدلی

بلبلان ورپسې ځي د باغ په لورې

پتنګانو اور ته ځان ورغورځولی

ستاسې پر آند ایا په شعر کې ښکلا شته او کنه ؟ او دا راته وویاست ، چې دا ښکلا څنګه پیدا شوه او د دې ښکلا اغیز څه دی؟

ځواب:

شعر په اصل کې د ښکلا ګانو انځور دی ، ځکه نو که چیرې د شعر نه ښکلا ووځي نو داسې ده لکه چې د بدن نه روح ووځي ، دا ښکلا هله پیدا شوه چې انسان سترګې وغړولې ، د فطرت په رنګونو یې نظر پریوتو ، د ښایست د پیژندنې احساس یې را ویښ شو ، یو شاعر د یو ارماني (مثالي) ژوند خوب ویني ، هغه په نفرتونو ، وحشتونو ، تشدد ، زور زیاتي باور نه لري ، هغه په لمبو کې هم د ګلونو لټون کوي هم دغه د ښکلا د لټون احساس دی چې په شعر کې زور پیدا کوي او د خپل اوریدونکي او لوستونکي د زړه تارونه لړزوي.

پوښتنه:

زمونږ د پښتو لرغونې ادب له حماسو نه ډک تاریخ لري. تاسې په پښتو ادبیاتو او په ځانګړې توګه په شعر کې د دغو حماسو اغیز څه ډول ارزوئ؟

ځواب:

هو ، بیخي داسې ده ځکه چې پښتون چا هم ارامو کښیناستو ته ندې پریښې، تاسې د پرون خبره کوئ او زه دا ګڼم چې دا د نن تولې پیښې د صبا حماسې دي، چې کله په یو دور کښې شعر تخلیق کیږي نو په څه نا څه ډول د خپل چار پیرچل نمایندګي کوي، د رحمن بابا پیژندګلوی د هغه د ژوند د حالاتو اندازه هم د دغه شعر څخه لګي چې وایي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو

ګور او اور او پیښور درې واړه یو دي

نو زه دا ګڼم چې د ژوند هره پیښه ،پر شعربانديې اغیز ښندي. لامل یې دا دی چې شاعر د خپل چاپیریال خپلې ټولنې نمایندګي کوي، او جوته ده چې نماینده به هغه څه لیکي چې څه ویني.

پوښتنه:

فلسفه ، تصوف او عرفان په شاعرۍ کې څرنګه څيړئ ؟ ستاسې په نظر په دغو درې برخو کې کوم شاعرانو خپل ذوق زيات ازمويلې دی او پاملرنه يې ورته کړې ده ؟

ځواب:

زما په خيال فلسفه او شعر د يو بل سره کوم تعلق نه لري ، که چيرې د فلسفې په ځای د مفکورې تورې استعمال شي نو ښه به وي ځکه چې فلسفه چې په انګليسي کې ورته (Philosophy)

ويلي کيږي دا معنی لري چې يوه خبره يو شي په دليل سره ثابتول، ځينې خلک غني خان بابا ته ليوني فلسفي وايي، دا ترکيب بيخي غلط دی ځکه چې فلسفه او ليونتوب دواړه د يو بل پر ضد دي، لکه چې خلک د پل صراط خبره کوي ، دا ترکيب هم غلط دی ځکه چې پل فارسي ده او صراط عربي ده تر کومه حده چې د تصوف تعلق دی نو د ځان پيژندنې ترنګه د خپل خالق پيژندنه د نبي پيژندنه او دغه رنګ عرفان چې د تصوف سره ډير نږديوالې لري د الله تعالی د پيژندنې سره تعلق لري ، او حقه دا ده چې د نبي پيژندنه په اصل کې د خالق کائينات پيژندنه ده لکه چې خوشحال بابا ډيره سپينه کړې ده.

د خدای عرفان مې اوشو په عرفان د محمد

پاک دی محمد پاک دی سبحان د محمد

د فلسفې يا مفکورې ، تصوف او عرفان په اړه د پښتو شاعرۍ لمن ښه ډکه ده ، د بايزيد انصاري او اخوند درويزه نه را واخله ترحمزه بابا پورې کڼ مثالونه شته لکه عبدالرحمن بابا ، اخوند کريمداد ، اخوند قاسم ، حمزه شينواری او نور ډير.

پوښتنه:

مهرباني وکړئ د لنډيو په اړه خپل معلومات راسره شريک کړئ . په ځينو اسيايي هيوادونو کې فلکلوريک اشعار لکه هايکو او داسې نور ويل کيږي . تاسې د پښتو ادب د لنډيو په پرتله دغه ډول اشعار څه ډول څيړئ؟

ځواب:

لنډۍ چې ورته ټپه او مصرعه هم ويل کيږي او پوهانو وربانديې ډيرې څيړنې کړي دي ، زما په خيال تر ټولو لرغونې صنف دی ، او د دې تر څنګ لنډۍ د هر چا ده ، که د هر چا په خوله راغلې ده او که د چا د په قلم ليکل شوې ده ، د پښتون قام شريک ميراث دی ، که مونږ يې د ټولې اسيا په فولکلور باندې نظر واچوو نو د لنډۍ مقابله کول ډير ګران

دي پر دوو کرښو کې چې نهه او دیارلس سیلابه لري دومره لوی مضمون راټول شي چې پرې کتاب څه چې کتابونه لیکل کیدلای شي لکه:

د حجرې ګوټ ورپسې ګورئ – ځما جانان به په شلیدلي کټ کې وینه

ملامت یار مخې له راغې – له خپلو بدو شرمیدو کوز یې کاتنه

اوس په دغه دوه ؤ لنډیو کې زمونږ غونډ کولتور پټ دی ، د دې تر څنګ ورکې څومره باریکه منظر نګاري ده ، بل کوم صنف خواه که هغه غزل وي او که نظم ، چاربیته وي او که سندره یا د نورو اسیایي هیوادونو کوم اصناف وي د لنډۍ مقابله نه شي کولای.

پوښتنه:

په پښتو ادب کې د متلونو په برخه کې څه لید لرئ. او پښتو متلونه د نورو ژبو د متلونو په پرتله څه ډول ارزوئ؟ ایا تاسې په خپلو شعرونو کې له متلونو څخه هم ګټه اخیستې ده او کنه ؟ که مو اخیستې ده نو اغیز یې پر خپلو شعرونو څه ډول څیرئ؟

ځواب:

متلونه د ډیرې تجربې ، مشاهدې نه وروسته مینځ ته راځي ، ځکه چې په وړه خبره کې لویه خبره کولې شي ، په پښتو کې ځای په ځای د دغه متلونو نه استفاده شوې ده ، او چې کله هم په شعر کې متل ځای شوې دی نو د شعر وزن یې نور هم درووند کړې دی ، زه په شعر کې په مناسب ځای کې د متل د استعمال قایل یم ، او په خپل دغه غزل چې د نازیه اقبال نه علاوه استاد منګل او نورو ویلې دی.

دا وختونه بې لتانه نه تیریږي یه جانانه

کې دا متل چې وایي د بارانه تختیدمه د ناورې لاندې مې شپه شوه داسې ځای کړې دی

د ناوې لاندې مې شپه شوه تختیدمه له بارانه:

دا هر چا ستایلې او خوښ کړې دی.

پوښتنه:

شعر او موسیقي د هر ثقافت په ماڼۍ کې بنسټیزې ستنې دي ، او یو له بل سره تړاو لري. تاسې په دې اړه څۀ لید لرئ ، او دا راته وویاست چې ستاسې شعرونه کومو سندرغاړو او هنرمندانو ویلې دي؟

ځواب:

زه خیال کوم چې موسیقي د شعر جامه ده ، تر څو چې کوم شعر د موسیقۍ په اهنګونو کې ځای شوې نه وي تر هغه یې لفظونه مړه او ورک وي ، تر دې وخته چې مونږ ځومره شاعران پیژندلي دي هغه د موسیقۍ د اهنګونو په اساس ، که چیرته د دې شاعرانو د شعرونو سره د موسیقۍ مرسته نه وای نو چا به هم نه وی پیژندلي ، په بره خوا کې راډیو افغانستان او په کوزه خوا کې راډیو پاکستان، پیښور په دې اړه ډیر بنیادي کردار اداء کړي دی ، نن که د حمزه شینواري بابا نوم دی نو د غزلو سره یې د رفیق شینواري موسیقۍ لوی لاس لرلي دی ، دغه رنګ ډاکټر محمد اعظم اعظم ، مراد شینواری او غني خان نه تر کلاسیک شاعرانو لکه رحمان بابا ، او خوشحال بابا پورې ټول عام ولس د هنرمندانو د اوازونو د موسیقۍ د اهنګونو په زور پیژندلي دي ، زه ځان په دې بختور ګڼم چې د دې دور تقریبا هر هنرمند زما شعرونه ویلي، ویلي کیږې چې شمیره یې د اوه سوه څخه زیاته ده.

پوښتنه:

تر هغه ځایه چې زه خبر یم تاسې د کوزې پښتونخوا د راډیو او تلویزیون سره اړیکې لرئ او د پښتو هنرمندانو او سندرغاړو او د پښتو د دودیزې موسیقۍ د ودې، پرمختیا او پراختیا په اړه مو د ستاینې وړ خدمتونه تر سره کړي دي ، هیله ده له خپلو کارواییو مو خبر کړئ؟

ځواب:

زه د پښتو ژبې د پرمختګ او د پښتو هنرمندانو د مرستې په ترڅ کې یوه شیبه هم له لاسه نه ورکوم ، دا په دې چې پښتو ژبه زما مور ده او زه په ځان د خپلې مور حقله هر څه زیات ګڼم هم د دغه فکر تر مخه مې یو شمیر هنرمندان په خپل اولس پیژندلي دي چې ورکې نازیه اقبال ، خالد ملک ، وصال خیال ، او نور ډیر شامل دي ، د موسیقۍ په استادانو کې ماسټر علي حیدر ، استاد نذیر ګل ، استاد فرح زیب او استاد شاکر زیب په وړومبې ځل ما د کمپوزرانو په حیث متعارف کړي دي چې نن وخت د پښتو موسیقي په دنیا راج کوي.

پوښتنه:

پښتو غزل چې زمونږ د پښتو ادبیاتو یو غوریدلي څیل او صنف دی ، کولای شي چې د نورو ژبو سره په ځانګړې توګه هغه وخت چې د موسیقۍ پردو په ښکلي کمپوز کې زمزمه شي سیالي وکړي؟ تاسې د پښتو غزلو اصالت او دودیزې ځانګړتیاوې په څه کې وینئ.

ځواب:

سره له دې چې غزل مونږ ته د فارسي نه راغلې لکه چې حميد بابا ويلي دي:

فارسيانو د حيرت ګوتې په خوله کړې

چې حميد سخن سازي کړه په پښتو کې

خو مونږ غزل پښتون کړو ، د موسيقۍ په پردو کې د غزل د ځای کيدو اصل وجه دا ده چې د غزل ځمکه ، د غزل هيئت يو خوا د مضمون په لحاظ بيلابيل رنګونه لري او بل د داساني وجې له خوا دا زور لري چې ښه کمپوز شي.

پوښتنه:

په يوه ټولنه کې چې د عقايدو او فرهنګ سانسور وي ستاسې په آند پر شاعر او ليکوال څه اغيز لري ، شاعر او ليکوال بايد د دې نيمګړتياوو سره څه ډول مبارزه وکړي؟

ځواب:

عقايد او فرهنګ په ټولنيز ژوند کې دواړه ډير مهم رول لري، يو شاعر او ليکوال نشي کولي چې د دوی د اثر څخه ځان وساتي ، په خصوصي توګه چې پښتانه په يومهال د خپل مذهب او خپلو عقايدو سره کلک تړون لري او همدارنګه په خپل فرهنګ هم مين دي ، زه خيال کوم چې د قلم خاوندانو دې هر څه ته په خپل خپل ځآی کې اهميت ورکړې ، څو د پښتون د اجتماعي فکر نمايندګي وکړي ، ځکه چې د فرهنګ پريښودل د پښتو پريښودل دي او د عقايدو پريښودل د مذهب نه لاس ورکول دي ، پښتانه له خپلو شاعرانو څخه دغه هيله لري چې نه سيخ وسوځي او نه کباب.

پوښتنه:

يو شمير شاعرانو او ليکوالو د خپلو څيړنيزو او نوښتګرو کارونو او فعاليتونو لپاره د بهرنيو ليکوالو اثار او شعرونه ژباړلي دي ، ستاسې پر اند د بهرنيو اثارو ژباړه او يا زمونږ د اثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيز لري؟ او دا راته ووياست چې تاسې بهرني اثار ژباړلي او کنه؟

ځواب:

نن چې ټوله نړۍ په يو مرکز راغونده شوې ده او د ګلوبل ويليج نه اوس د "ګلوبل هوم" تصور وده مومي نو په داسې حال کې ژباړنې ډير زيات ارزښت لري ، په پښتو کې که هر څو دغه رجحان کم دی خو د وخت غوښتنه دا ده چې په دې لاره کې نورفعاليتونه هم

تر سره شي، ما له اوردو ژبې څخه ژباړنې کړي دي چې ورکې د کشمیر د حالاتو په اړه ژباړنه ، اوښکې او لمبې د ذکر وړ دي.

پوښتنه:

یو شمیر ادبي او فرهنګي ستې په دې عقیده دي ، چې د پښتو ژبې په سوچه کولو ، کره کولو ، علمي کولو او معیاري کولو کې باید ډیره زیاته پاملرنه وشي . مهرباني وکړئ تاسي په دې اړه خپل لید راته څرګند کړئ؟

ځواب:

دغه سوچ په خپل ځای صحیح دی خو زه ګمان کوم چې د قومونو په دې روان اختلاط کې نه نسلونه سوچه پاتې کیدې شي او نه ژبه ، لکه چې د افغانستان په پښتو د فارسی او عربي ډیر ژور اغیز دی پر مقابله کې یې د پاکستان پښتنو د انګلیسي او اردو اغیز قبول کړی دی ، تر یو څه موده به دغه کار وکړې شي خو په مکمله توګه ګرانه ده او که څۀ کوښښ هم وکړې نو زه ګمان کوم چې د احساساتو او محسوساتو یو بل ته رسول به ګران څه چې ناممکن شي ، زما په فکر د ټولو پښتنو تر منځ یوه داسي لار پکار ده چې په اسانه د ټول قام نمایندګي وکړې شي.

پوښتنه:

په دې کې شک نشته چې ژبه د پوهولو او راپوهولو وسیله ده ، په لره او بره پښتونخوا کې پښتو ژبه بیلا بیل ګړدودونه (لهجې) لري ، تاسي په رسمي ، دولتي او ملي کچه د ژبې د معیاري لیکدود او معیاري ګړدود په سیستماتیکه او علمي بڼه رامنځته کیدل څه ډول ارزوئ؟

ځواب:

دغه مې ارزو ده لکه دمخه مې چې عرض وکړو.

پوښتنه:

سربیره پر دې چې په لره او بره پښتونخوا کې یو شمیر درنو او پاخه لیکوالو او شاعرانو پر ځینیو تقلیدي شاعرانو خپلې څیړنې کړي دي خو بیا هم زمونږ په ټولنه کې یو شمیر شاعران وینو ، چې د تقلید په پله روان دي تاسي د یو شاعر او ادبي شخصیت په توګه دا نیمګړتیاوې څرنګه څیړئ ، او د دغو نیمګړتیاوو په اړه ځوانو شاعرانو ته کوم وړاندیزونه او لارښوونې لرئ؟

ځواب:

د چا تقليد کول ، د چا په لاره تګ بده خبره نده خو زما په خيال د تقليد قطعاً دا مطلب ګڼل نه دي پکار چې سړې دې خپل کوم سوچ خپل کوم فکر ونه لري ، البته که په لاشعوري توګه څوک د چا نه کوم څه شی واخلي نو دا بده خبره نه ده ، خو زه فکر کوم چې که څوک په پټو سترګو د کوم لوی ليکوال يا شاعر تقليد شروع کړي نو ځان به وبايلي ، ان که دغه تقليد د يوې مفکورې د خپروني(خوروني) په خاطر وي نو بيا جواز لري لکه چې د پښتو په کلاسيک ادب کې د بايزيد انصاري د سبک يا مسلک خپله ډله ليکوال دي چې د وجوديت خپرونه (خورونه) يې کړې ده او د اخوند درويزه خپل پلويان وو چې د شهوديت په اړه يې ليکل کړي دي ، بلکې تر اوسه پورې دغه سلسله روانه ده ، بيا هم زما په خيال کوشش دا پکار دی چې هر ليکوال او هر شاعر د ځان د پاره خپله لار وټاکي ، خپل انداز ولري ، دغه ځانګړتيا به هغه ته ژوند ورکړي ځکه چې د ګورې ونې لاندې واړه واړه بوټي کله هم وده نه شي کولې ، ځوان شاعران خو بايد دې ته ځانګړې پام وکړي خو دا انفراديت هلته کيدې شي چې ځوانان د مطالعې او مشاهدې اړخ ته پوره توجه وکړي.

پوښتنه:

زما پر آند دهرهنر، هنرمند د يوې ټولنې د خلکو په راويښولواو دملي احساساتو په راپارولو کې ډېر عالي رول لري اوبايد دخپل هنر په وسيله دخپلې ټولنې اوخلکوپه خدمت کې وي، خوزموږ په لره او بره پښتونخوا کې يوشميرشاعران، ليکوال، هنرمندان، سندرغاړي او داسې نوربرخلاف دخپلو اصلي دندو عمل کړی دی اوکوي يې، دبيلګې په توګه يوشمير شاعران اوهنرمندان (مدح سرايي) کوي، شعر اوهنر يې په شعارونو تبديل شوی دی او دخپل حريف پرضديې حساسيت ښوودلی دی او يا يې ښيي.

مهرباني وکړی په دې اړه خپل ليد راته بيان کړی؟

ځواب:

زه له دې خبرې سره په کلکه همغږی يم چې د هرې ټولنې په راويښولو کې شاعر او هنرمند ډير مهم رول لري ، که چيرته مونږ په نړيوال کچ وګورو نو چرته چرته چې د ځان ګټنې دپاره پاڅون شوې دی ، د هغې تر شا د دغه قام د هنرمندانو او شاعرانو ډير مهم رول پاتې شوې دی ، زه ګمان کوم چې که چيرې د يوې ټولنې دغه حساسه ډله شخصيت پرستې شروع کړي نو دا بيا د يو قام بدمرغي ده ، په پښتنه ټولنه کې دغه رجحان د خانانو ، نوابانو په محفلونو کې تر اوسه شته ، او د ځينو مجبوريتونو پر اساس ځينې شاعران هم دغه مدحه سرايي کوي.

دغه رنګ د یو بل پر ضد لیکل څه د نن خبره نده ، که چیرته د تاریخ پاڼې واړولې شي نو ډیر ډیر کاله پخوا هم دغه رجحان ؤ، ان تر دې چې د پښتو لوی صوفي شاعرعبد الرحمن بابا هم داسې ویلي دي:

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي

زه رحمن په پښتو ژبه عالمګیر یم

د اولسي شاعري ډیر ښکاره نوم او د شلمې پیړۍ ډیر نوموړی شاعر علي حیدر جوشي خو خبره تر دې رسولې ده چې وايي:

د سیملا علي حیدر چې څو ژوندې وي

سر به نه پورته کوي نور شاعران

په نني دور کې اباسین یوسفزي هم دا خبره پدې انداز کړې ده:

که زما د شخصیت حدونه ګورې

زما فن زما د فکر ترجمان دی

دا هغه اشارې دي چې ورکې د انا پرستۍ عنصر واضحه ښکاري ، خو رحمن بابا بیا د ځان په تړاو دا خبره سپینه کړې ده او دا یې فرمایلي دي:

که ته ګل شوې هر بلل به د ثنا که

د خپل ځان صفت په خپله په کار نه دی

د یو بل پر ضد شعرونه ویل د اسلام نه وړاندې ډیر زیات وه او  ان تر دې چې هغوی به یو بل ته ډیر سپک او پوچ نسبتونه هم کول چې ښې نمونې یې په سبع معلقات کې موجودې دي.

پوښتنه:

تاسې د هنراو ادبیاتوپه تاریخ کې سیاسي، اجتماعي، ادبي اوفرهنګي ژمندویې (ذمه وارۍ)، رسالتونه او مسوولیتونه څرنګه څیرئ؟

ځواب:

هنر او ادب د هر دور او هر وخت د ټولنې په سیاست او نورو اړخونو ژور اغیز لرلې. زه په دغه تناظر کې دا فکر کوم چې زمونږ پښتانه لیکوال باید د وخت د نزاکتونو خیال

وساتي او د خپل ليک په وسيله د خپل ولس په مکمله توګه نمايندګي وکړي، څکه چې هم د دغه ليکونو نه د راتلونکي وخت څيړنکار تاريخ پوهان ، سياست پوهان خپل خپل نظر اخلي ، د قلم کوم خاوندان چې د وخت په نبضونو ځان پوه نه کړي هغوی د هغه زمه وارو نه سرغړو نه کوي کوم چې د هغوی ملي او اجتماعي زمه واري ده.

پوښتنه:

په لره او بره پښتونخوا اوبهرکې په يو لړ راديويي او تلويزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه اوبرنامي خپريږي، د دغو خپرونوپه اړه ستاسي ليد د يو باتجربه کاره ادبي اوفرهنګي ستې په توګه، چې دراديو اوتلويزون سره تړاولری څه دی؟

ځواب:

زما په فکر د پښتو ادب او فرهنګ په ژوندي ساتلو کې اليکټرانيک ميډيا ډير مهم رول لرلې دی ، هم دغه راډيو او تلويزيون دی چې هغه ليکوالو ته يې موقع په لاس ورکړې ده ، چا چې په ټولنه کې د خپلو مجبوريو له امله د وړاندې تګ سوچ نه ؤ کړې ، که زه د پښتو ژبې په خصوصي توګه ذکر وکړم نو په پوره وثوق سره وايم چې که پيښور او کابل راډيو دغه رنګ د پيښور تلويزيون د خپلو شاعرانو روزنه نه وې کړې نو نن به هيچا خاطر افريدي ، ناظر شينواری، او ان تر غني خان او حمزه بابا پورې چانه پيژندل ، دغه رنګ که په بره خوا کې د ملنګ جان استاد غزلو ته اليکټرانيک ميډيا په خپلو پروګرامونو کې ځای نه وې ورکړې نو چاته به هم دا پته نه وه چې ملنګ جان څوک وو ، ثبوت يې دا دی چې نن هم په زرګونو داسې شاعران ، ليکوالان ، هنرمندان د ميډيا د موقعو د نيشت والي په وجه پټ پراته دي ، چې تخليق يې د ادب په هر تول پوره دی ، نو زه دا ګڼم چې دغه ادارې د ادب او فرهنګ په پرمختګ کې ډير ژور او مهم رول لري.

پوښتنه:

په لره او بره پښتونخوا او بهرکې يو شمير ادبي اوفرهنګي ټولنې جوړې شوې دي او همدارنګه ادبي ناستی او ادبي غونډې ترسره کيږي اود يوشمير اديبانو، ليکوالو اوشاعرانو کارونه او فعاليتونه څيړل کيږي. ستاسي پر آند دا کارونه او فعاليتونه د پښتو ادب د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيز لري؟ او د دغو ټولنو د يووالي اودکارونو او فعاليتونود سمون اوخوځون په اړه څه وړانديزونه لری؟ آيا په دې اړه کومه هڅه هم شوی ده او که نه؟

ځواب:

زه فکر کوم چې د پښتو په نوم سیاست هر چا کړې دی ، پښتو یې خوړلې ده خو د پښتو د پرمختګ لپاره یې هیڅ عملي ګام ندې پورته کړې ، په بره خوا کې د ظاهر شاه بابا څلوېښت کاله ، د داؤد خان دوره او بیا د نورو چې پښتو ژبه ویل یې خپل سپکاوی ګڼلی دی دغه رنګ په کوزه خوا کې د پښتو ټول دعویداران چې په خپلو اولادونو انګلیسي سبقونه وایي او په دې ویاړي چې د هغوی اولادونه د خپلې ژبې زده کولو پر ځای نورې ژبې لیکلي او لوستلی شي ، زه دا عقیده لرم چې صرف پښتو ویل هیڅ معنا نه لري ، د خپلې ژبې لوستل او لیکل ډیر زیات مهم دي ، پښتو که چا ژوندې ساتلې ده ، ښتو که چا پښتو کړې ده ، هغه د دې ژبې بې وسه لیکواله طبقه ده ، هغه ادبي ټولنې دي چې د هر ډول وسایلو د نشت والي باوجود خپلې غونډې کوي او له هر ډول ستونزو سره سره د پښتو ژبې د پرمختګ لپاره عملي کار کوي.

زه د دې ټولنو د یووالي پلوي نه یم ، ځکه چې د لیکوالو بیلا بیلې ډلې د یو بل پر مقابله کې خپل خپل فعالیتونه زیاتوي ، البته دا عقیده لرم چې د ژبې د پرمختګ لپاره دې اجتماعي کار کوي ، ځکه چې منزل او مرام یې یو دی ، د لارو بدلون بده خبره نده البته د منزل بدلون بدې نتیجې رابرسیره کوي.

پوښتنه:

مهرباني وکړی دخپلو آثارو په اړه معلومات راکړی؟

ځواب:

زه خو ځان ته لیکوال نه شم ویلای ، زه خو لکه د پرون نن هم یو ادنی طالب العلم یم ، بس دغه مې خواهش او ارزو ده چې د خپلې مورنۍ ژبې د پاره بغیر د څه غرض نه یو څه کار وکړم تر اوسه مې دوه ویشت کتابونه په بیلا بیلو موضوعاتو لیکلي دي چې نومونه یې دا دي:

د محنت مېوه (د ماشومانو لپاره)، کیلې (شعري ټولګه)، ویښ خوبونه (شعري ټولګه)، ستاپه نوم (شعري ټولګه)،راځئ چې بیا وخاندو (د منتخبو ټوکو ټکالو ټولګه)،ګلبانو او ظفر خان (ولسي قیصه)،اوښکي او لمبې (د کشمېر په هکله)، د احمددین طالب دیوان (د خصوصي مقدمي او اضافو سره)، ډالۍ (د علی خان بابا او عبدالحمېد بابا د شاعري موازنه)، مشکښې (شعري ټولګه)، لیونتوب (شعري ټولګه)، صل علیه واعلیه (نعتیه ټولګه)چې دی نعتیه ټولګی ته د پاکستان جمهور رئیس له خوا په (۱۹۹۱)ز کال کې جایزه (ایوارډ) ورکړل شوه، جلوې(نعتیه ټولګه)چې ورته په کال (۲۰۰۷)ز کال کې وزیر اعظم له خوا جایزه (ایوارډ) ورکړل شوې ده.، ما هیرولي نه شی (شعري ټولګه)، ډاکتر کبیر ستوری ژوند او مبارزه (د اروابناد کبیر ستوری د لیک او شخصیت په حواله

د بیلابیلو لیکوالو د تاثراتو ټولګه)، ای ګمبد خضرا (نعتیه ټولګه)چې ورته د پاکستان وزیر اعظم له خواپه (۲۰۱۰ )ز کال کې جایزه (ایوارډ) ورکړل شوه، ماته آئینه ( د افسانو ټولګه)چې نن سبا د خیبر تلویزیون په پرده د لنډو ډرامو په بڼه خپریږی ،فنکار نه مری (څیړنه) پدی څیړنه کې د تیرو هیرو اوازونو په نوم د پنځوسوسندرغاړو او فنکارانو ژوند لیکونه او حال احوال راټول شوی دی،« ځلنده ستوری» چې دسوات د ماما خیلو منظوم تاریخ دی، راز و نیاز (نعتیه ټولګه)، ته به ما یادوی (شعری ټولګه)، وراني کربښي (شعري ټولګه)، خوبونه تعبیرونه (دیورپ سفرنامه) د لیک لاندی.

پوښتنه:

دلر او برو پښتنولیکوالو، ادیبانواوشاعرانود ګډو هلوځلو او فرهنګي فعالیتونو په اړه مو لید څه دی؟

ځواب:

خدای بخښلي اجمل بابا څه ښه خبره کړې ده :

د خیبر دره خو لار د تلو راتلو ده

په کابل او پیښور کې افغان یو دی

دا د یو نیکه اولاد ، د یو کولتور او یو فکر خاوندان یو. استعماري قوت په (۱۸۹۳ز) کال کې د یو بل نه په رسمي توګه بیل کړې دي خو له ذهني او فرهنګي پلوه یې بیلید ګران دي ، که هر څو حالاتو د دواړو هیوادونو تر مینځه سیاسي اختلافات رامنځته کړې وي ، نو انکار ترې نه شي کیدلای خو لکه د پرون زمونږ تر منځ د شعر په دنیا کې د هر څه نه زیات خوشحال بابا او رحمن بابا شریک دي ، زمونږ تر منځ په فرهنګي دنیا کې استاد خیال محمد استاد شاه ولي ، نغمه ، ګلنار بیګم ، کشور سلطان ، قمرګله او نور با شمیره داسې شریک دي لکه د یو کور غړي، نو زه خیال کوم چې پښتانه لیکوال چې سره کښیني جرګې مرکې کوي ، د یو بل سره ګډې ادبي هلې ځلې کوي دوی د دواړو قامونو تر منځ د فاصلو نژدې کولو کې د سفیرانو حیثیت لرلې دی ، دا د اجتماعي جذبو ترجماني کوي زه خو دا خیال کوم چې دغه شریکي هلې ځلې دې لا پسې پیاوړې شي ، چې مونږ د وحدت هغه منزل ته زر ورسیږو کوم چې د وختونو په ګردونو کې تت تت ښکاري.

پوښتنه:

مهرباني وکړی دخپل ادبي اوفرهنګي ژوند خوږې او ترخې خاطرې را ته بیان کړئ؟

ځواب:

د ژوند هره ساه یوه نرۍ خاطره ده ، زه به درته کومه کومه بیان کړم ، چې د تیرو وختونو خاطرې رایادوم نو د زړه پرهرونه مې تازه کیږي ، دا به ښه وي چې شیخ فریده پټه خوله دې بهتري ده ، خفه رانه نه شې.

پوښتنه:

ستاسي پیغام د یو لیکوال اوشاعرپه توګه دلر او بر پښتونخوا اوپه بهرکې ځوانو لیکوالو اوشاعرانوته څه دی؟

ځواب:

زه ځان د پیغام جوګه نه ګڼم البته دغه مې وینا ده چې په تیرو ......................
وختونو کې عموماً او په دې تیرو کلونو کې خصوصاً د پښتنو د وجود د ختمولو لپاره استعماري قوتونو ټول ظلمونه ټولې دسیسې په کار راوستي دي ، زمونږ د کولتور زمونږ د روایاتو د ختمولو په ضد خارجي قوتونه شپه ورځ پلانونه تیاروي ، پداسې حال کې د هر پښتون لیکوال دا (ذمه واري) ده چې د رومانتیکو نزاکتونو له سرګندونې سره د فطرت د ښکلاګانو له نغمو سره د خپل اولس ساندې هم راونغاړي او نن چې د پښتنې خاورې ټول وجود پرهر پرهر پروت دی ، د دغې پرهرونو د ټکورولو او خپل زوریدلي ولس ته د تسلي ورکولو دنده دې هم سرته ورسوي.

زه خو چې کله د اجمل بابا د خولې دا لنډې رایادوم:

ځانګه به نن سبا کې ګل شي

ما يې په سر کې سرې غوټۍ لیدني دینه

نو په راتلونکي وخت کې د امید رڼا وینم خو کله چې د نن حالاتو ته ګورم او د خپل ناپوهه فکر په تله د دغه پرهرونو تول کوم نو په ذهن مې مایوسي راخوریږي خو د اجمل بابا او نورو اتلانو د فکرونو په رڼا کښې د امید بڅرې لټوم.

زما خپلو پښتنو لیکوالو ته هم دغه وینا ده چې د قام درد خپل درد وګڼي او د دغو دردونو هره څړیکه په څه نا څه ډول په خپلو شعرونو او لیکنو کې ځای په ځای کړي.

پوښتنه:

تاسي دیوشاعراو لیکوال په توګه دپشتونخوا اوسنی سیاسي، تاریخي اوکړکیچن حالات څرنګه څیرئ، اونوروشاعرانو او لیکوالوته په دې اړه څه وړاندیزونه لرئ؟

ځواب:

لکه چې دمخه مې وويل ، نن زمونږ تاريخ له ډير کړکيچن دور نه تريږي ، ځومره پښتانه مشران ، ځوانان ، ملکان ، هنرمندان ، پيغلې ، ماشومان ، چې په دې تيرو ځو کالونو کې ووژل شول ، دومره به په انساني تاريخ کې د چا سره تيرې هم نه وي شوي ، د يوې ځيړنې مطابق دومره چاودنې په فلسطين کې تر اوسه پورې ندي شوي ، په عراق يا نورو کومو هيوادونو کې نه دي شوي. زمونږ، نه کور محفوظ دی او نه جومات چې بنيادي علت يې هماغه پاليسياني دي چې د نورو په اشارو جوړيږي ، دغه پاليسياني د مذهب او رواياتو پر ضد دي اودا جوته ده چې د داسې پاليسيانو پايلې (نتيجې) مثبتې نشي راوتلای ، پښتون ليکوال بايد د پښتون مسلمان په صفت په دې هر څه نظر ولري او داسې ادب تخليق کړي چې راتلونکی ځيرننکار ترې د حقايقو پته ولګولای شي.

ليکوال دې دقلم په سوچه ژبه

د وختونو هرې ساه له ژبه ورکړي

ګرانه ورورہ لايق زاده صاحب! له تاسو څخه ډيره مننه، چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل.

زه هم له تاسو څخه ډيره ډيره مننه کوم.

په ډير درنښت او ادبي مينه: انجنيرعبدالقادرمسعود